# رسول الله صلی الله علیه وسلم به هر لمانځه ته اودس کاوه

عمرو بن عامر له انس بن مالک رضي الله عنه څخه روایت کوي فرمايي: رسول الله صلی الله علیه وسلم به هر لمانځه ته اودس کاوه، ما وویل: تاسو به څنګه کول؟ هغه وویل: زمونږ څخه به یو تن تر هغه پورې په - یو اودس سره لمونځونه کول - تر څو به یې چې اودس مات شوی نه و.

[صحيح] [بخاری روایت کړی]

رسول الله صلی الله علیه وسلم به د هر فرض لمانځه لپاره اودس کاوه، اګر که اودس به یې مات شوی هم نه و؛ دا - کار به یې د - اجر او فضیلت د لاسته راوړلو په خاطر کاوه. په یوه اودس سره له یو فرض لمونځ څخه زیات لمونځونه کول روا دي، تر هغه وخته چې اودس ولري.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/65080

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee